# په سویډن کې د پښتو ژبې د زده کوونکو

# د پاره څلورم کتاب

# ٤

ترتیب کوونکی: عبدالعلي رسول‌زاده


# بسم الله الرحمن الرحيم

## تر پيل دمخته خبري

دغه كتاب هم ډېر كلونه پخوا د افغانستان د ښووني او روزني د وزارت له خوا چاپ سو او د افغانستان په ښونځيو كي تدريس كېدئ. تر هغه وروسته په هيواد كي ډېر تغيرات راغله. هر رژيم او مخالفو خواوو ډول ډول كتابونه او درسي مواد چاپ كړه. هيوادوال مهاجرت ته اړ سوه او د نړۍ په هر هر ګوټ كي مهاجر سوه. دوی غوښتل چي اولادونه يې د خپلي مورنۍ ژبي د زده كړي څخه بې برخي پاته نه سي نو يې هلي ځلي كولې چي په دغه مهاجرت كي څه درسي مواد پيدا او اولادو ته يې ور زده كړي. په بېلابېلو هيوادو كي اتحاديې جوړي سوې حتی په ځينو هيوادو كي د ښوونځيو په پروګرامونو كي پښتو ژبي ته هم ځای وركول سو. پدغه وخت كي ستونزه دا وه چي همدا تدريس بايد د كومو كتابو له لاري سر ته ورسيږي. چا به يو او چا به هغه نور كتابونه خوښول. په پای كي زياترو خلكو دغه سلسله غوره كړه. ځكه چي د يوه پلوه ښه كتابونه وه او د بله پلوه زيات سياسي او يو اړخيزه پلوي پكښي نه ليده كېده. موږ هم دلته په سويډن كي د همدې سلسلې څخه كار اخيستئ. د دې د پاره چي زده كوونكي و كولای سي چي هم ليكل سوي كلمې وويني او هم يې په خپله و ليكي نو ما دغه يو شمېر تمرينونه ور سره زيات كړي دي. په دغه كتاب كي په كراره كراره په سويډن كي د مورنۍ ژبي پښتو د حكومتي پروګرام سره سم څه تغيرات راغله .كه كومي برخي يې د چا د نظر سره برابر نه وي هغه برخي دي يې ور نه ايسته كړي.

د رسمونو او ليكلو تر پای ته رسېدو وروسته رحمت الله سروري ته چي په سويډن كي د مالمو په ښار كي د پښتو ژبي ښوونكی دئ د ټيپي غلطيو د اصلاح او نظر وركولو د پاره وركول سو. د دې كار تر سر ته رسېدو وروسته يې دادئ اوس د زده كوونكو او ښوونكو په خدمت كي ايږدم خدای(ج) دي و كړي چي ګټه ور نه واخلي.

په درنښت
عبدالعلي رسول زاده
مالمو سويډن ۲۸\۱۲\۲۰۰۵
alirasulzada@hotmail .com



# د ملالۍ بوټونه



ملالۍ خپلي مور ته وویل ، " موري ، ډېر وخت کیږي چي مورږ د ښوونځي څخه رخصت شوي یو. ما په رخصتۍ کي له ملګرو سره لوبي وکړې. زمورږ رخصتي ډېره ښه تېره شوه. خو موري زمورږ ښوونځی کله شروع کیږي"؟

مور یې وویل ،" ستاسي ښوونځی درې ورځې وروسته شروع کیږي".

تمرین:

د لاندي کلمو څخه د پورتني لوست سره برابري جملې جوړې کړئ

مثال: وویل ته خپلي ملالۍ مور

جواب: ملالۍ خپلي مور ته و ویل

۱- وخت ډېر موري، کیږي

موري، ______________________________

۲- د رخصت ښوونځي موږ چي څخه شوي یو.

چي موږ ______________________________

۳- په رخصتۍ کي لوبي ما له ملګرو سره وکړې.

ما په ______________________________

٤- رخصتي ډېره زموږ ښه تېره شوه.

زموږ ______________________________

٥- موري خو ښوونځی زموږ شروع کله کیږي.

خو موري ______________________________

٦- و ویل، مور یې

مور ______________________________

۷- ښوونځی ستاسي وروسته ورځي درې شروع کیږي.

ستاسي ______________________________



کله چي ملالۍ د مور خبره واورېده ، ژر پلار ته ورغله او و يې ويل ، " زموږ ښوونځی درې ورځي وروسته شروع کيږي. زه کالي ، کتابچې او قلم لرم خو بوټونه مي زاړه دي. وګوره پلاره ، بوټونه مي څومره زاړه شوي دي".

پلار يې وويل ، " هو لوري ، بوټونه دي زاړه شوي دي".

**تمرين:**

**د لاندي كلمو څخه د پورتني لوست سره برابري جملې جوړي كئ**

**مثال:** چي ملالۍ كله د مور واورېده خبره

**جواب:** كله چي ملالۍ د مور خبره واورېده

۱ـ پلار ژر ته ورغله

ژر ____________________

۲ـ زموږ او ويې ويل، درې ورځي ښوونځی شروع كيږي وروسته

او و يې ____________________

۳ـ كتابچې زه كالي، او لرم قلم

زه ____________________

٤ـ خو مي زاړه بوټونه دي شوي


خو ____________________

٥ـ پلاره، وګوره مي زاړه بوټونه څومره شوي دي.

پلاره ____________________

٦ـ يې وويل، پلار لوري هو، دي زاړه بوټونه شوي دي

پلار ____________________



سدو ملالۍ او زمرک ته وویل ، " وګورئ ، پلار بوټونه راوړي دي. څومره ښه بوټونه دي. زه د ښوونځي د پاره کالي ، کتابچې او قلم لرم. بوټونه مي هم نوي دي خو ستاسي بوټونه زاړه شوي وه. پلار دغه نوي بوټونه تاسي ته راوړي دي. واخلئ ، خپل نوي بوټونه مو واخلئ".

**تمرين:**

**د لاندي جملو خالي ځايونه د پورتنۍ پاڼي په مناسبو کلمو ډک کړئ**

**مثال:** سدو ____________ او ____________ ته و ويل ،

**جواب:** سدو *ملالۍ* او *زمرک* ته و ويل ،

۱ـ و ګورئ ____________ بوټونه ____________ دي.

۲ـ ځومره ښه ____________ دي.


۳ـ زه د ____________ د پاره ____________ ، ________ او ____________ لرم.

۴ـ ____________ مي هم ____________ دي.

۵ـ خو ____________ بوټونه ____________ شوي وه.

۶ـ پلار دغه____________ بوټونه ____________ ته ____________ دي.

۷ـ واخلئ ____________ نوي ____________ مو ____________.



ملالۍ وویل ، " زمرکه ، دا بوټونه زما دي. دا بوټونه ستا په پښو لوی دي. دغه دي خپل بوټونه دي واخله ، زما بوټونه راکړه ".

زمرک خپل بوټونه واخيستل او د ملالۍ بوټونه يې ور کړل.

**تمرین:**

**د لاندي جملو خالي ځایونه د لوړي پاڼي په مناسبو کلمو ډک کړئ**

**مثال:** __________ و ویل ، __________ ، دا بوټونه __________ دي.

**جواب:** *ملالۍ* و ویل ، *زمرکه* دا بوټونه *زما* دي.


۱ـ دا __________ ستا په __________ لوی دي.

۲ـ __________ دي __________ بوټونه دي __________ ،

۳ـ زما __________ راکړه.

٤ـ زمرک __________ بوټونه __________

٥ـ او د __________ بوټونه یې ور کړل.



پلار ملالۍ او زمرک ته وویل ، "خپل نوي بوټونه مو په پښو کړل؟ خوښ مو شول"؟

زمرک وویل ، " هو پلاره ، خپل نوي بوټونه مو په پښو کړل. ډېر مو خوښ شول".

ملالۍ وویل ، "پلاره ، اوس موږ د ښوونځي د پاره کالي، کتابچې او قلمونه لرو ، بوټونه مو هم نوي شول. له تاسي څخه ډېره خوښي کوو".

---

لغاتونه:

ښوونځی مکتب څومره څونه

**تمرین:**

**د لاندي کلمو څخه جملې جوړې کړئ**

مثال: پلار

جواب: پلار پر ما ګران دئ.

۱ـ بوټونه ________________________________

۲ـ ملالۍ ________________________________

۳ـ خپل ________________________________

٤ـ نوي ________________________________

٥ـ په پښو کړل ________________________________

٦ـ ډېر ________________________________

۷ـ خوښ ________________________________

۸ـ د پاره ________________________________

۹ـ کالي ________________________________

۱۰ـ هم ________________________________

۱۱ـ خوښي ________________________________

# Substantiv (نوم) اسم

اسم یا نوم د شیانو ، ځایو ، انسانانو ، حیواناتو او نورو نوم دئ لکه: قلم ، ښوونځی، خونه(کوټه )، سړی ، نجلۍ ، هلک ، سدو ، پسه ، ژړا او نور.

لاندي یو څو جملې در کول سوي دي ، په هره جمله کي تر اسم لاندي خط کش سوئ دئ و یې لولۍ:

۱ـ د ملالۍ بوټونه.
۲ـ ملالۍ خپلي مور ته و ویل.
۳ـ ډېر وخت کیږي چي مورږ د ښوونځي څخه رخصت شوي یو.
٤ـ سدو ملالۍ او زمرک ته و ویل.
٥ـ زه د ښوونځي د پاره کالي ، کتابچې ، او قلم لرم.

تمرین: لاندي جملې و لولئ او تر اسمونو لاندي یې خط کش کړئ .

۱ـ پلار دغه نوي بوټونه تاسي ته را وړي دي.
۲ـ دا بوټونه ستا په پښو لوی دي.
۳ـ زمرک خپل بوټونه واخیستل او د ملالۍ بوټونه یې ور کړل .
٤ـ پلار یې و ویل ، "هو لوري ، بوټونه دي زاړه شوي دي ".
٥ـ زمورږ ښوونځی درې ورځې وروسته شروع کیږي.
٦ـ ما په رخصتۍ کي له ملګرو سره لوبې و کړې.


اسم یا مفرد (یو ) یا جمع(ډېر ) وي لکه :

| مفرد (یو ) | جمع(ډېر ) |
|---|---|
| قلم | قلمان یا قلمونه |
| هلک | هلکان |
| مور | میندي |
| نجلۍ ، جلکۍ | نجوني ، جلکیاني |

زده کوونکي دي په خپله د تېر لوست څخه لس اسمونه را پیدا کړي او د مفرد او جمع په شکل دي یې و لیکي ____________________



# د لوبو میدان



سدو ملالۍ ته وویل ، "وګوره ، نجوني او هلکان د ښوونځي په میدان کي لوبي کوي".

ملالۍ وویل ، " هو ، هلکان والي بال کوي. نجوني دمبۍ کوي".

سدو وویل ، "زه ځم د هلکانو سره والي بال کوم".
ملالۍ وویل ، "زه هم ځم د نجونو سره دمبۍ کوم".

**تمرین:**

**د لاندي کلمو څخه د پورتني لوست سره برابري جملې جوړې کړئ**

**مثال:** ملالۍ ته و ویل سدو

**جواب:** سدو ملالۍ ته و ویل.

۱ـ هلکان و ګوره نجوني او لوبي کوي د ښوونځي په میدان کي

وګوره ، نجوني ______________________________

۲ـ هو ، هلکان کوي والي بال

هو ، ______________________________

۳ـ کوي نجوني دمبۍ


نجوني ______________________________

٤ـ زه ځم والي بال د کوم هلکانو سره سدو و ویل ،

سدو و ویل ، ______________________________

٥ـ زه هم ځم دمبۍ د نجونو سره کوم ملالۍ و ویل ،

ملالۍ و ویل ، ______________________________



ملالۍ نجونو ته ورغله چي د هغو سره دمبۍ و کړي. سدو هلکانو ته ورغئ چي د هغو سره والي بال و کړي. هلکان لوی وه خو سدو کوچنی و.

سدو هلکانو ته و ویل، "زه ستاسي سره والي بال و کړم"؟

هلکانو ور ته و ویل، "یه، ته کوچنی یې".

**تمرین:**
لاندي پښتو لغاتونه په سویډني معنا کړئ

مثال: نجونو ته
جواب: Till flickor

۱ـ ورغله

---

۲ـ د هغو سره

---

۳ـ چې

---

۴ـ هلکان

---

۵ـ هلکان لوی وه


---

۶ـ ستاسي سره

---

۷ـ یه، ته کوچنی یې

---



زنګ و وهل شو. ټول زده کونکي ټولګيو ته ولاړل.

ښوونکي و ويل، "سور ګله، پنځم مخ و لوله". سور ګل د کتاب پنځم مخ لوست. سدو خپل کتاب ته نه کتل، فکر يې لوست ته نه وو. د سدو فکر بل ځای وو. د رخصتۍ زنګ و وهل شو، ټول زده کوونکي کورو ته ولاړل.

**تمرین:**
**لاندي جملې په سویډني معنا کړئ**

**مثال: ښوونکي و ویل**
**جواب:** <u>Läraren sa</u>

۱ ـ ټول زده کوونکي ټولکیو ته ولاړل.

---

۲ ـ سور ګله ، د کتاب پنځم مخ و لوله

---

۳ ـ سور کل د کتاب پنځم مخ لوست

---

۴ ـ سدو خپل کتاب ته نه کتل


---

۵ ـ د لوست وخت خلاص شو

---

۶ ـ ټول زده کوونکي کورو ته ولاړل

---



سدو پلار ته و ویل ، ”نن نجونو د ښوونځي په میدان کي لوبي کولي. ملالۍ د نجونو سره دمبۍ و کړه. هلکانو والي بال کاوه. زه یې نه پرېښودم چي والي بال ور سره و کړم ، ما ته یې و ویل چي ته کوچنی یې“.

پلار یې و ویل ، ”هو ، کوچني هلکان د لویو هلکانو سره والي بال نه شي کولای“.

**تمرین:**

لاندي جملې په سوېډني ترجمه کړئ

**مثال:** سدو پلار ته و **ویل**

**جواب:** Saddå sa till sin pappa

۱ـ نن نجونو او هلکانو

---

۲ـ د ښوونځي په میدان کي لوبي کولې.

---

۳ـ ملالۍ د نجونو سره دمبۍ و کړه .

---

۴ـ هلکانو والي بال کاوه.

---

۵ـ ما ته یې و **ویل** چي ته کوچنی یې.

---

۶ـ پلار یې و **ویل** ،

---

۷ـ هو ، ته کوچنی یې .

---



په دا بله ورځ د سدو پلار یو کوچنی توپ راوړ. سدو ته یې و ویل، "دا دی تا ته مې کوچنی توپ راوړی دی. په دغه توپ لوبې کوه. د والي بال توپ د لویو هلکانو د پاره دی".

سدو و ویل، "پلاره، زه هم لوی یم. و ګوره لوی نه یم"؟

پلار یې و ویل، "هو، ته لوی یې. ته په دوهم ټولګي کې یې، خو د لوړو ټولګیو هلکان تر تا لوی دي".

تمرین: د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ.

مثال: په دا بله ___ورځ___ د سدو پلار یو کوچني توپ راوړ.

بوټ
ورځ
کتاب

۱ـ سدو ته یې و ویل ، دا دئ __________ مي کوچنی توپ راوړئ دئ

مور ته
ملالۍ ته
تا ته

۲ـ په دغه توپ ______________ کوه

لوبي
پخول
رسم

۳ـ د والي بال توپ د لویو ______________ د پاره دئ

ښځو
هلکانو
نجونو

۴ـ سدو و ویل ، "پلاره ، زه هم __________ یم

لوی
کوچنی
ښوونکی

۵ـ و ګوره __________ نه یم"

کوچنی
لوی
نجلۍ

۶ـ پلار یې __________ ، "هو ، ته لوی یې"

و ځغستل
و خوړل
و ویل



سدو و ویل ، ”هو ، لوی هلکان په لوړو ټولګیو کې دي. زه په دوهم ټولګي کې یم. زه به د کوچنیو هلکانو سره لوبې کوم. زه هم چې لوړو ټولګیو ته ولاړ شم بیا به د لویو هلکانو سره لوبې کوم“.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| لوبې | بازۍ | و لوله | و وایه |
| لوست | سبق | ټولګی | صنف |

**تمرین:** د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ.

**مثال:** په دا بله __ورځ__ د سدو پلار یو کوچني توپ راوړ.

بوټ
ورځ
کتاب

۱ـ سدو و ویل ، هو ، لوی هلکان په __________ ټولګیو کي دي

لوړو
ټولګیو
ښارونو

۲ـ زه په دوهم __________ کي یم

ټولګي
ښوونځي
تلویزیون

۳ـ __________ د کوچنیو هلکانو سره لوبي کوم

دوی به
زه به
تاسي به

۴ـ زه هم چي لوړو __________ ته ولاړ شم

ټولګیو
کورونو
خلکو

۵ـ بیا به ________ هلکانو سره لوبي کوم

کوچنیو
لویو
نورو

# اختــــر

مورږ افغانان په هر کال کي دوه ځله اختر لرو چي یو یې کوچنی او بل یې لوی اختر دئ. کوچنی اختر درې ورځي وي. دا اختر د دې د پاره وي چي تر مخه یې مسلمانانو یوه میاشت روژه نیولې وي او د اختر تر لومړۍ ورځي د مخه روژه خلاصه شي.

لوی اختر ځکه وي چي مسلمانان پدغه اختر کي حج ته ځي او خلک په کورو کي پسونه ، غوایي او وزې حلالوي او خوارانو ته یې ور کوي. حج د سعودي عربستان په هیواد کي د مکې او مدینې شریفي په ښارونو کي کوي. لوی اختر څلور ورځي وي. د لوی اختر تر ورځي مخکي یوه ورځ رخصتي وي چي هغه ورځ د عرفات د ورځي په نامه بلل کیږي.

عرفات په مکه شریفه کي یو میدان دئ چي د عرفات په ورځ هلته ټوله حاجیان سره را ټولیږي. د اختر په لومړۍ ورځ خلک د اختر د لمانځه د پاره عیدګاه ته ځي.

د اختر په ورځو کي خلک خوشاله وي، نوي کالي اغوندي. ښه خواړه خوري ، یو د بل کورونو ته ځي او مېلې کوي. کوچنیانو ته پیسې او خوږې ور کوي. کشران د مشرانو لاسونه ور مچوي.

تمرين:

ښوونکئ دي د زده کوونکو سره مرسته و کړي

۱ ـ موږ په یوه کال کي څو اخترونه لرو او نومونه يې څه دي ؟

موږ ________________________________________

یو ________________________________________

۲ ـ د اختر په ورځو کي کوچنيان څه کوي ؟

د اختر ________________________________________

۳ ـ د اختر په ورځو کي خلک کوچنيانو ته څه شی ور کوي ؟

د اختر په ورځو کي ________________________________________

٤ ـ د اختر په ورځو کي خلک څه شی خوري ؟

د اختر ________________________________________

٥ ـ حاجيان چيري حج کوي ؟

حاجيان________________________________________

٦ ـ د عرفات ورځ کومه ورځ ده ؟

د عرفات ________________________________________

۷ ـ عيد ګاه د څه د پاره ده ؟

عيد ګاه د ________________________________________

تمرین:

لاندي سویډني جملې په پښتو ترجمه کړئ

مثال: Jag har en penna.

جواب: زه یو قلم لرم.

1- Saddå går i skolan.

______________________________________________

2- Han skriver.

______________________________________________

3 - Mallalai frågar sin mamma.

______________________________________________

4 - Zmarrack vill hjälpa Saddå.

______________________________________________

5 - Flickorna spelade fotboll.

______________________________________________

6 - Min syster äter frukt.

______________________________________________

7- De springer.

______________________________________________

# د سویډنیانو اختــر

سویډنیان هم لکه افغانان اخترونه لري. د سویډنیانو د اختر ورځ د ډیسمبر د میاشتي پر پنځه‌ویشتمه نېټه ده چي هغه ته یول وایي. خو سویډنیان د اختر په شپه یعني د ډیسیمبر پر څلورویشتمه نېټه یو د بل کورونو ته ځي، مېلمستیاوي کوي، ښه خواړه پخوي، ښه کالي اغوندي او یو او بل ته تحفې (سوغاتونه) ور کوي. په دغه اختر کي کوچنیان ډېر خوشاله وي ځکه چي خپلوان یې ښې ښې تحفې ور کوي.

سویډنیان دغه اختر د حضرت عیسا (علیه السلام) د زېږېدني د ورځي په خاطر کوي.

حضرت عیسا (علیه السلام) د خدای تعالی پیغمبر دئ. دی تر حضرت محمد(ص) نیژدې ۶۰۰ کاله د مخه پیدا سوئ وو.

دغه ډول سویډنیان نوري کلتوري ورځي او اخترونه لري لکه پوسک، میډسومر او نور.

تمرین:

لوړ لوست ښه و لولئ او بیا لاندي پوښتنو ته جواب و وایاست

۱ـ سویډنیان کله اختر لري ؟

۲ـ سویډنیان په خپل اختر کي یو او بل ته څه شی ور کوي؟

۳ـ سویډنیان په خپل اختر کي څه شی خوري؟

٤ـ د سویډنیانو اختر د څه په خاطر دئ؟

٥ـ د سویډنیانو بل اختر څه نومیږي؟

# فــعل Verb

فعل د یو څه کول ښکاره کوي لکه خورم ، ځي ، واخله ، وینښېدل ، ویدېدل ، لرو ، ( بیدېدل )، لوبي کول ، لیکل او نور. په لاندي جملو کي تر فعلونو لاندي خط کش شوئ دئ و یې ګورئ :

۱ ـ ملالۍ خپلي مور ته و ویل.
۲ ـ پلار یې یو کوچنی توپ راوړ.
۳ ـ دواړو یو ځای مېز سره و نیو.
٤ ـ سدو جواب ور کړ.
٥ ـ دوی ډوډۍ و خوړه.

په لاندي جملو کي فعلونه پیدا کړئ او خط تر لاندي کش کئ
۱ ـ دوی راغله.
۲ ـ مورِ کابل ته ځو.
۳ ـ تاسي لیک و لیکه.
٤ ـ هغه وایي.
٥ ـ دوی کور ته ولاړه.
٦ ـ تاسي څه و خوړه ؟
۷ ـ دوی لیک لیکي.
۸ ـ ته ځې.
۹ ـ هغه مورِ ته وایي.
۱۰ ـ ما مېز کیڼ کتار ته کشاوه.
۱۱ ـ زه به مېز له دې ځایه لیري کړم.

# احمد او محمود

احمد د اوو (۷) کالو دئ. دی یو کوچنی ورور لري چي نوم يې محمود دئ.

یوه ورځ احمد خپلي مور ته و ویل ، " خدای (ج) دي محمود ژر لوی کړي چي زه او دی دواړه یو ځای ښوونځي ته سره ځو.

مور په اونۍ (هفته) کي شپږ (٦) ورځي ښوونځي ته ځو.
مور يې پوښتنه ځني وکړه، "احمده ، ستا د اونۍ د ورځو نومونه زده دي"؟ احمد و ویل ، "هو".
شنبه ، یکشنبه ، دو شنبه ، سه شنبه ، چهار شنبه ، پنج شنبه او جمعه چي په دغه ورځ د ښوونځي څخه رخصت یو.
د شنبې په ورځ فتبال کوو.
د یکشنبې په ورځ فتبال کوو.
د دو شنبې په ورځ حساب کوو (جمع ، منفي ، ضرب او تقسیم).
د سه شنبې په ورځ خط لیکو.
د چهار شنبې په ورځ خط لیکو.
د پنج شنبې په ورځ دینیات لولو.

تمرين:

لاندي پوښتنو ته جواب و ليکئ

۱ـ د جمعې په ورځ احمد څه کوي؟

د جمعې په ____________________

۲ـ محمود د احمد څه دئ؟

محمود د ____________________

۳ـ احمد ولي غواړي چي محمود ژر لوی سي؟

چي د ده سره ____________________


٤ـ د اونۍ ورځي څه نومونه لري؟

__________ __________ __________ __________


__________ __________ __________ __________

٦ـ يوه هفته(اونۍ ) څو ورځي ده؟

يوه اونۍ ____________________




# کار او لوبي



یوه ورځ سدو وختي ښوونځي ته ولاړ. په ټولګي کي يې خپل ملګری ببرک و ليد او ور ته و يې ويل، "زما سره د ښوونځي په ميدان کي لوبي کوې"؟

ببرک و ويل، " هو، خو لومړی بايد دغه مېز له دې ځايه ليري کړم".

سدو و ويل، "ډېر ښه، زه به لومړی له تا سره مېز له دې ځايه ليري کړم. بيا به دواړه لوبي و کړو".

**تمرین:**

**لاندي لغاتونه په جملو کي راولئ**

**مثال:** ورځ

**جواب:** سدو هره ورځ ښوونځي ته ځي

**۱ـ وختي**

---

**۲ـ ولاړ**

---

**۳ـ ټولګي**

---

**۴ـ ببرک**

---

**۵ـ لومړی**


---

**۶ـ مېز**

---

**۷ـ له دې ځایه**

---



ببرک و ویل ، "ډېر ښه ، راځه چي اوس مېز له دې ځایه لیري کړو. زه به یو ، دوه ، درې و وایم. چي درې مي و ویل نو دواړه به یو ځای مېز سره لیري کړو".

سدو و ویل ، "ډېر ښه ، نا وخته کیږي راځه چي ژر مېز لیري کړو".

**تمرین:**

لاندي کلمې په جملو کي را ولئ

مثال : ښه

جواب: سدو ښه هلک دئ

۱ ـ ډېر ______

۲ ـ راځه ______

۳ ـ اوس ______

٤ ـ ځای ______


٥ ـ ښخه ______

٦ ـ لیري کړو ______

۷ ـ درې ______

۸ ـ دواړه ______

۹ ـ نا وخته ______



ببرک و ویل ، "یو ( ۱ )، دوه ( ۲ )، درې ( ۳ ). دواړو یو ځای مېز سره و نیو خو زور یې و نه رسېد .

سدو و ویل ، "راځه بیا زور و وهو چې مېز لیري کړو ".

ببرک بیا یو ، دوه ، درې و ویل خو بیا یې هم زور و نه رسېد .

**تمرين:**
په لاندي جملو کي فعلونه پيدا کړئ او تر هر فعل لاندي خط و ليکئ
مثال: ببرک و ويل.
جواب: و ويل.

۱ـ موږ ولي دا مېز ښي کتار ته وړو ؟

۲ـ سدو جواب ور کړ.

۳ـ ببرک و ويل،


٤ـ ما خو مېز کيڼ کتار ته کشاوه.

٥ـ اوس و پوهېدم.

٦ـ تا کيڼ کتار ته کشاوه.

۷ـ ما ښي کتار ته کشاوه.

۸ـ راځه چي اوس يې ښي کتار ته کش کړو.



ببرک و ویل، "مورِ ولي دا مېز ښي کتار ته نه شو وړای؟"
سدو جواب ور کړ، "ببرکه، ما خو مېز کيڼ کتار ته کشاوه".

ببرک و ویل، "ښه، اوس و پوهېدم. تا کيڼ کتار ته کشاوه او ما ښي کتار ته. راځه چي اوس يې دواړه ښي کتار ته کش کړو".

تمرین: د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ.

مثال: مورې ولي دا ___مېز___ ښي کتار ته نشو وړای؟

ښوونځی
غاب
مېز

۱ـ مورې ولي دا مېز ښي__________ ته نشو وړای؟

مېز
مورې
کتار

۲ـ سدو __________ ور کړ.

ولاړ
جواب
ځغلي

۳ـ ببرکه ، ما خو مېز __________ کتار ته کشاوه.

کیڼ
کتار
مېز

۴ـ ببرک و ویل ، ښه اوس __________.


راغلم
و پوهېدم
تاسي

۵ـ تا کیڼ __________ ته کشاوه

کتار
ښي
کالي

۶ـ راځه چي __________ یې دواړه ښي کتار ته کش کړو.

اوس
څم
ولاړ




سدو او ببرک دواړو یو ځای مېز سره و نیو او ښي کتار ته یې و رساوه.

ببرک و ویل ، " جوړ اوسې سدو. کار مو وکړ. راځه چې اوس لوبې و کړو ".

لغاتونه:

لومړی          اول          ښی          راسته

کیڼ          چپه ، چپ

تمرين: د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابري ده ، د جملې پر خالي ځای يې و لیکئ.

مثال: سدو او ببرک دواړو یو ځای مېز سره و نیو

ښوونځی
دواړو
مېز

۱ـ سدو او ببرک دواړو ________ مېز سره و نیو

سدو
ببرک
یو ځای

۲ـ او ښي __________ ته يې و رساوه.

و رساوه
ښي
کتار

۳ـ ببرک و ویل ، ________ اوسې سدو.

موږ
جوړ
کتار

٤ـ کار مو __________ .

و خوړ
جوړ
و کړ

٥ـ ________ چي اوس لوبي و کړو.

را ځه
لوبي
مېز

# صفت Adjeltiv


صفت په یوه جمله کې پر اسم یا نوم باندې تاثیر کوي لکه ښه ، بد ، جګ ، سور ، غټ ، کوچنی سوړ او نور. په لاندې جملو کې تر صفت لاندې خط کش سوئ دئ و یې لولئ:

١ ـ احمد ښه هلک دئ.
٢ ـ زه یو لوی قلم لرم.
٣ ـ زمونږ کور پر لوړه غونډۍ دئ.
٤ ـ ببرک یو ښکلئ موټر لري.
٥ ـ تاسي دوه ارزانه قلمونه لرئ.

په لاندې جملو کې صفتونه پیدا کئ او خط تر لاندې و لیکئ
١ ـ زمونږ زوړ ښوونکئ راغلئ دئ.
٢ ـ ملالۍ خپل زاړه بوټونه په پښو کړه.
٣ ـ سدو د ملالۍ نوي بوټونه راوړل.
٤ ـ هلکان د خپل ځوان ښوونکي سره ځي.
٥ ـ د ده مور یوه جګه ښځه ده.

زده کوونکي دي پخپله پنځه صفتونه و لیکي

__________ __________ __________ __________ __________




# د ښوونځي شا و خوا



یو ښوونکۍ له خپلو زده کوونکو سره د ښوونځي په میدان کي روان وو. ملالۍ و ویل، "ژر مه ځۍ. زه غواړم چي د خپل ښوونځي میدان و وینم".

ښوونکي و ویل، "راځۍ چي وني و شمېرو".

سدو وني شمېرلې: یوه، دوې، درې.

ملالۍ و ویل، "و ګورۍ هغه ده په ونه کي ځاله ده. په ځاله کي یو شی ښکاري". زده کوونکو د ښوونځي په میدان کي ټول شیان و کتل.

**تمرین:** د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ.

**مثال:** یو ښوونکی د خپلو زده‌کوونکو سره د ښوونځي په میدان کې روان وو

ورور
زده‌کوونکو
مور

۱ـ ملالۍ و ویل ، ـــــ مه ځئ.

تاسي
ځغلئ
ژر

۲ـ زه ـــــــــ چې د خپل ښوونځي میدان و وینم.

غوارم
لرم
ورم

۳ـ ښوونکي و ویل ، راځئ چې ـــــــــ و شمېرو.

وني
پسونه
کتابونه

۴ـ سدو وني ـــــــــــ : یوه ، دوې درې.

راوړلې
شمېرلې
خوړلې

۵ـ ملالۍ و ویل : ـــــــــــ هغه ده په ونه کې ځاله ده.

راځي
و ګورئ
ښه دئ

۶ـ په ـــــــــ کې یو شی ښکاري.

ونه
ځاله
ښوونکی



سدو و ویل، "معلم صاحب، د ښوونځي میدان مو و کوت. اوس د باندي ولاړ شو"؟

ښوونکي و ویل، "هو، راځئ چي ولاړ شو. د ښوونځي نه د باندي شیان به هم و ګورو".

ښوونکی او زده کوونکي ټول له ښوونځي نه د باندي و وتل. ورو ورو یوه نیږدې کلي ته و رسېدل.

ښوونکي و ویل، "د دغه کلي شا و خوا وني او کورونه به څو وي"؟
چا وني او چا کورونه شمېرل.

**تمرین:** د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابري ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ.

**مثال:** سدو و ویل ، __معلم__ صاحب ، د ښوونځي میدان مو و کوت.

ورور
**معلم**
ښوونځی

۱ـ اوس د باندي __________ شو.

و خورو
و لیکو
ولاړ

۲ـ ښوونکي و ویل ، هو ، __________ چي ولاړ شو.

ولاړ
راځئ
وګورئ

۳ـ د ښوونځي نه د باندي __________ به هم و ګورو.

وزه
ښوونکئ
شیان

۴ـ ښوونکی او زده کوونکي__________ د ښوونځي نه د باندي و وتل.


ټول
دوه
زموږ

۵ـ ورو ورو یوه نږدې __________ ته و رسېدل.

کور
کلي
ښوونځي

۶ـ ښوونکي و ویل ، د __________ کلي ونې به څو وي؟

دغه
زموږ
ولي



هیلۍ و ویل، ”دا دئ په دې کلي کې دکان دی. معلم صاحب، که وخت وي دکان ته ور شو“؟

ښوونکي و ویل، ”یه، اوس ناوخته دی. دکان ته نه شو ور تلای. راځئ چې بیرته ښوونځي ته ولاړ شو“.

**تمرین: د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ.**

**مثال: هیلۍ و ویل ، دا دی په دې کلي کې دکان دی.**

**کور**
**په دې**
**ښوونځي**

**۱ـ هیلۍ و ویل ، دا دی پدې ____________ کې دکان دی.**

**ښار**
**کور**
**کلي**

**۲ـ معلم صاحب ، که وخت وي دکان ته ______________ ؟**

**ور شو**
**ځم**
**غواړي**

**۳ـ ښوونکي و ویل ، یه ، اوس ____________ دی.**

**ژر**
**کله**
**ناوخته**

**٤ـ دکان ته نه شو ______________ .**


**ور تلای**
**راځو**
**ور سه**

**٥ـ راځئ چي بیرته ______________ ته ولاړ شو.**

**کور**
**ښوونځي**
**دکان**

**٦ـ راځئ چي ____________ ښوونځي ته ولاړ شو.**

**بیرته**
**ولاړ شو**
**ځغلو**



سپوږمۍ و ویل ، ”نن ډېره ښه ورځ ده“.

ښوونکي پوښتنه و کړه ، ”سپوږمۍ ، نن ولې ښه ورځ ده“؟

سپوږمۍ جواب ور کړ ، ” ځکه چې ډېر نوي شیان مو و لیدل“. ښوونکي و ویل ،” ډېر نوي شیان مو و لیدل. اوس نو کتابچې را واخلئ او څو نوي شیان رسم کړئ“.

نجونو او هلکانو و ویل ،”ډېر ښه ، دوه ، درې شیان به رسم کړو“.

تمرین: د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ.

مثال: سپوږمۍ و ویل ، نن ډېره ښه ورځ ده.

بده
ډېره
لمر

۱ـ ښوونکي ______ و کړه ،

خوښي
پوښتنه
رسم

۲ـ نن ولي ښه ______ ده ؟

ورځ
ښوونځی
کار

۳ـ سپوږمۍ جواب ورکړ ، ځکه چي ډېر ______ شیان مو و لیدل.

زاړه
نوي
خواږه

٤ـ اوس نو ______ را واخلئ او څو نوي شیان رسم کړئ.

غوا
کتابچې
کالي

٥ـ نجونو او ______ و ویل ،

ښوونکي
نجونو
هلکانو

٦ـ ډېر ښه دوه درې ______ به رسم کړو.

بوټونه
شیان
کتابونه

# ښوونځی

موږ نجوني هلکان
د سبا ورځي ځوانان
ځو ښوونځي ته په مینه
موږ لرو ورسره مینه
دا ښوونځی لکه کور
استاذان مو پلار او مور
دلته لوبي او مستي کړو
په خپل لوست کي هم خواري کړو
موږ بچي د ګربتانو
د ننګیالیو افغانانو
اوس مو توره ده ښوونه
نه وېرېږو له دښمنه

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښوونکی | معلم | وني | درختي |
| ښکاري | معلومیږي | شمېرلي | حسابولي |
| د باندي | بیرون | ورو ورو | کرار کرار |
| مینه | ګرانښت | استاذان | معلمان |
| مستي | لوبي | بچي | اولادونه |
| ګوربت | یو لوی مرغه دئ | ننګیالیو | غښتلو |

**تمرين:** د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ.

مثال: مورِ __نجوني__ هلکان

نجوني
ښوونکي
ورونه

۱ـ د سبا __________ ځوانان

ورځې
کور
کالي

۲ـ ځو ښوونځي ته په __________

څغلي
راځي
مینه

۳ـ مورِ لرو __________ مینه

ور سره
ستاسي
ځي

۴ـ دا ښوونځی __________ کور

ښوونکئ
لکه
ځو

۵ـ استاذان مو __________ او مور

پلار
مور
ورور

۶ـ اوس مو __________ ده ښو ونه

کار
توره
قلم

**تمرین:**
لاندي پښتو جملې په سویډني ترجمه کړئ
مثال: زه یوه چوکۍ رانیسم (اخلم)
جواب: .Jag köper en stol

۱ـ مور یوه غالۍ لرو

---

۲ـ سدو کالي اغوندي

---

۳ـ د ملالۍ بوټونه زاړه دي

---

۴ـ زموږ معلم راغی

---

۵ـ زما همصنفیان پر ما ګران دي

---

۶ـ تاسي ښوونځي ته ځئ

---

۷ـ موږ راغلي یو

---

# مرغان

مرغان ډېر ښکلي دي. ځيني مرغان پر وچه ژوند کوي او ځيني مرغان په اوبو او وچه کي ژوند کولای شي.

ځيني مرغان په ژمي کي تودو ځايو ته کوچ کوي او په اوړي کي بيرته خپلو پخوانيو ځايو ته راځي. ځيني مرغان بيا کوچ نه کوي او ټوله وخت په يوه ځای کي ژوند کوي. دا مرغان د واوري په وخت کي د خوړو د کموالي سره مخامخ وي.

د پسرلي په فصل کي مرغان ځالي جوړوي، هګۍ اچوي او چيچيان باسي.

د مرغانو د ښکو څخه خلک بالښتان، تلتکان(برستني) او نور شيان جوړوي چي ډېر تاوده او پاسته وي.



# زمرک مور ته رسم کاږي



زمرک پر کاغذ باندي یو شی رسم کړ او سدو ته يې و ویل ، " سدو ، زما نوم پر دې کاغذ باندي و لیکه. مور به په خوشاله شي ".

سدو و ویل ، " ته خپل نوم په خپله لیکلای شې. زه به له تا سره کومک و کړم ".

زمرک قلم او کاغذ را وا خیست او د سدو په کومک يې خپل نوم و لیکه.

سدو و ویل ، " زمرکه ، اوس چي دي نوم و لیکل شو راځه چي مور ته يې ور وړو ".

تمرین:

د لاندي کلمو څخه د پورتني لوست سره برابري جملې جوړې کړئ

مثال: پر کاغذ زمرک رسم یو شی باندي

جواب: زمرک پر کاغذ باندي یو شی رسم کړ.

۱ـ سدو ته و ویل یې

سدو ________________________________

۲ـ زما نوم کاغذ پر دې و لیکه باندي

زما نوم ________________________________

۳ـ په خوشاله مور به شي

________________________________

٤ـ ته خپل لیکلای نوم په خپله شې

ته خپل ________________________________

٥ـ کومک زه به سره له تا وکړم

زه به ________________________________

٦ـ را واخیست زمرک کاغذ او قلم

زمرک قلم ________________________________


۷ـ د په کومک یې سدو نوم خپل و لیکه

د سدو ________________________________

۸ـ اوس نوم چې دي و لیکل شو، سدو و ویل راځه چې مور ته یې ور وړو

سدو و ویل، ________________________________

________________________________



زمرک او سدو مور ته ورغلل.

زمرک و ویل ، ”موري ، زما په لاس کي یو شی دی. زما نوم پر لیکل شوی دی“.

مور و ویل ، ”زه خو یې نه وینم ، چیري دی“؟

زمرک و ویل ، ”موري ، فکر و کړه ، ښه فکر و کړه. تر شا مي نیولی دی“.

مور یې جواب ور کړ ، ”تر شا خو دي لاسونه دي“.

**تمرین:**

**د لاندي کلمو څخه د پورتني لوست سره برابري جملې جوړې کړئ**

**مثال:** سدو او **ورغلل** مور ته زمرک

**جواب:** سدو او زمرک مور ته و رغلل

۱ـ و **ویل**، موري زمرک زما یوشی په لاس دی کي

زمرک و **ویل**، ____________________

۲ـ نوم زما پر **لیکل** دی شوی

زما نوم ____________________

۳ـ زه نه خو یې وینم مور و **ویل**، **چیري** دی؟

مور و **ویل**، ____________________

٤ـ موري وکړه فکر زمرک و **ویل**،


زمرک و **ویل**، ____________________

٥ـ فکر ښه وکړه

ښه ____________________

٦ـ جواب مور ور کړ، یې تر شا خو دي لاسونه دي.

مور جواب ور کړ، ____________________



زمرک و ویل ، ”هو تر شا مي لاسونه نیولي دي ”. اوس را ته و وایه چي څو لاسونه دي ”؟

مور یې جواب ور کړ ، ”دوه لاسونه دي ”.

زمرک و ویل ، ”نه موري ، ښه فکر و کړه. زما تر شا څو لاسونه دي ”؟

مور یې و ویل ، ”چي دوه نه دي نو څلور دي ” ؟

زمرک و ویل ، ”بیا هم فکر و کړه ، څلور هم نه دي ”.

**تمرين:**

**د لاندي كلمو څخه د پورتني لوست سره برابري جملې جوړي كړئ**

**مثال: و ويل ، هو ، زمرک شا مي تر لاسونه دي نيولي**

**جواب: زمرک و ويل ، هو ، تر شا مي لاسونه نيولي دي.**

**١ـ جواب مور يې ور كړ ،**

**مور يې** ________________________________________

**٢ـ لاسونه دي دوه**

**دوه** ________________________________________

**٣ـ و ويل ، زمرک ښه فكر نه موري ، وكړه.**

**زمرک و ويل ،** ________________________________________

**٤ـ دي ؟ زما شا څو تر لاسونه**


**زما** ________________________________________

**٥ـ و ويل ، مور يې دوه نه دي څلور نو دي.**

**چي دوه** ________________________________________

**٦ـ زمرک و ويل ، فكر هم بيا وكړه ، څلور هم نه دي.**

**زمرک و ويل ،** ________________________________________



مور یې و خندل او و یې ویل ، چې " دوه نه دي ، څلور نه دي‌نو درې دي ؟ ته خو درې لاسونه نه لرې ".

زمرک و ویل ، " هو موري ، زه درې لاسونه لرم. دا لاس ما رسم کړی دی ". و ګوره ، دا هم زما لاس دی. زما نوم پر لیکل شوی دی. واخله دا لاس تا ته در کوم ".

**تمرین:**
د لاندي کلمو څخه د پورتني لوست سره برابري جملې جوړې کړئ
مثال: و خندل يې مور
جواب: مور يې و خندل.

۱ـ دوه ځلور نه دي، نو دي؟ دي درې نه دي.

چي دوه ______

۲ـ خو لاسونه ته درې نه لرې لاسونه.

ته خو ______

۳ـ و ويل، هو موري، لاسونه درې زه لرم زمرک.

زمرک و ويل، ______

٤ـ دا ما رسم دی کړئ لاس.

دا لاس ______

٥ـ دا لاس هم دی زما و ګوره.

و ګوره ______

٦ـ نوم پر زما ليکل شوی دی.

زما ______

۷ـ دا واخله لاس تا ته درکوم.

واخله ______

**تمرین:**

**لاندي سویډني جملې په پښتو ترجمه کړئ**

**مثال:** زه کالي لرم

**جواب:** Jag har kläder.

۱ـ زمرک مڼه( سېب ) خوري.

---

۲ـ ملالۍ کالي مینځي.

---

۳ـ تاسي ښوونځي ته ولاړاست.

---

۴ـ مورِ به موټر و چلوو.

---

۵ـ زما بایسکل خراب شو.

---

۶ـ دوی زمورِ کور ته را ځي.

---

۷ـ مورِ ځو چي کتاب راوړو.

---

# کـــــال

یو کال څلور فصلونه لري لکه پسرلی ، اوړی ( دوبی ) ، منی او ژمی. د کال هر فصل درې میاشتې وي.

د افغانستان او سویډن د کلونو شروع کېدل یو د بل څخه یو څه فرق لري.

د افغانستان کال د پسرلي د لومړۍ ورځې سره یو ځای شروع کیږي. د سویډن کال د ژمي په منځ کي شروع کیږي.

پسرلی د افغاني کال لومړی فصل دئ. په پسرلي کي په ونو کي پاڼي را شنې کیږي. مېوه لرونکي وني لومړی ګلان کوي چې شګوفه بلل کیږي او بیا وروسته پاڼي را باسي.

تر ګلانو وروسته مېوه لرونکي وني مېوې کوي. مېوې په لومړی سر کي اومې وي ، رنګ یې زرغون او خوند یې یا تریو یا تریخ وي. کله چې مېوې پخې شي نو ډول ډول خوندونه لري. مېوې لکه ، انار ، زردالو ، شلیل ، شفتالو ، الوبالو ، الو ، انګور او نور. د انګورو وني ته تاک وایي.

**تمرین:**

لاندي پوښتنو ته جواب و لیکئ

مثال: یو کال څو فصلونه لري؟

جواب: یو کال څلور فصلونه لري.

۱ـ د کال د فصلونو نومونه و لیکئ.

__________ __________ __________ __________

۲ـ پسرلی د کال څووم فصل دئ؟

پسرلی د ______________________________

۳ـ ژمی د کال څو وم فصل دئ؟

ژمی د ______________________________

٤ـ اوړی د کال څو وم فصل دئ؟

اوړی د ______________________________

٥ـ منی د کال څو وم فصل دئ؟

منی د ______________________________

٦ـ د افغانستان د کال لومړۍ ورځ د کوم فصل د شروع سره برابره ده؟

د افغانستان______________________________

۷ـ د سویډن د کال لومړۍ ورځ په کوم فصل کي شروع کیږي؟

د سویډن د ______________________________

۸ـ د انګورو ونه په څه نامه یادیږي؟

د انګورو ونه د ______________________________

# سالګره

ملالۍ د الیاس څخه پوښتنه و کړه ، "ستا سالګره (کلیزه ) کله ده "

الیاس: "مورې سالګرې نه کوو".
ملالۍ: "ښه ، ته په کوم تاریخ (نېټه ) پیدا سوئ یې"؟
الیاس: "د افغانستان په تاریخ نه یم خبر خو دسویډن په تاریخ د ۱۹۹۳ کال د اپریل د میاشتي پر ۱۲ نېټه پیدا شوی یم".

که د ۱۹۹۳ څخه ٦۲۱ منفي کړو نو به د افغانستان کال ځني جوړ سي یعني ۱۳۷۲ کال ، چي دغه کال د هجري لمریز کال په نامه یادیږي. دغه ۱۹۹۳ کال د میلادي یا عیسوي کال په نامه یادیږي.

ملالۍ: "زما سالګره د ۱۹۹۱ کال د دوهمي میاشتي پر دریمه نېټه ده. پدغه ورځ زما مور او پلار ما ته تحفې را کوي او کېک را جوړوي".

**تمرین:**

**لاندي پوښتنو ته د لوړ لوست له مخي جواب ورکړئ**

**مثال: سالګره څه ته وايي ؟**

**جواب: سالګره د پیدا کېدو ورځ ده.**

**۱ـ تاسي په افغانستان کي سالګره کوله ؟**

---

**۲ـ ستا سالګره په کومه ورځ ده ؟**

---

**۳ـ خپل د زېږېدو نېټه دي و لیکه**

---

**٤ـ د سویډن ۱۹۸۲ کال به د افغانستان کوم کال وي ؟**

---

**٥ـ د ملالۍ د پیدا کېدو نېټي ته و ګورئ او و وایاست چي نن د څو کالو ده ؟**

---


**٦ـ ستا د سالګرې په باره کي دوې لیکي و لیکه**

---

---



# پسرلی



یوه ورځ سهار وختي زمرک او پلار یې له ښاره څخه کلي ته روان شول. په لاره کي یې یوه رمه ولیده. زمرک له پلار څخه پوښتنه وکړه، "پلاره ، دا رمه د چا ده "؟

پلار یې جواب ور کړ ، "دا رمه د کوچیانو ده ".

زمرک بیا پوښتنه وکړه ، "د کوچیانو رمه څوک ځړ ته بیایي؟ کوچني وري یې چیري دي "؟

پلار یې جواب ور کړ ، "د کوچیانو رمه شپون ځړ ته بیایي. وري یې هغه دي کیږدۍ ته نیږدې ځري ".

**تمرین:**

**لاندي لغاتونه په جملو کي راولئ**

**مثال: پسرلی**

**جواب: پسرلی ډېر ښه فصل دئ.**

۱ـ وختي

---

۲ـ پوښتنه

---

۳ـ ښار

---

٤ـ رمه

---

٥ـ جواب

---

٦ـ کوچیان


---

۷ـ څړ

---

۸ـ شپون

---



زمرک او پلار یې ورو ورو له څو کیږدیو نه تېر شول. د هري کیږدۍ سره یې وري لیدل چي څري او میږي یې شپون څرﻩ ته ببولي دي. د پسرلي شپې ورځي وې. هره خوا ښنه ښکارېده. هر څوک په خپل کار بوخت وو. هوا ډېره ښه وه. هر چا په ډېر شوق سره کار کاوه.

**تمرین:**

لاندي لغاتونه په جملو کي راولئ

مثال: پلار

جواب: د ملالۍ پلار راغئ.

۱ـ څو

---

۲ـ تېر شول

---

۳ـ د هري کېږدۍ

---

۴ـ وري

---

۵ـ څړ

---

۶ـ ببولي دي


---

۷ـ شنه ښکارېده

---

۸ـ هوا

---



زمرک او پلار یې ورو ورو کلي ته نیږدې شول. زمرک یو سړی و لید چې په غویو پسې روان دی. د پلار څخه یې پوښتنه و کړه، "پلاره، هغه سړی چې په غویو پسې روان دی څه کوي"؟

پلار یې و ویل، "هغه سړی بزګر دی، یوې کوي. ټول بزګران په پسرلي کې مځکه یوې کوي. اوس پسرلی دی. هوا ښه ده. هر څوک کار کوي".

**تمرین:**

**لاندي لغاتونه په جملو کي راولئ**

**مثال: کلي ته**

**جواب: مورِ سبا کلي ته راځو.**

**۱ـ ولید**

---

**۲ـ په غویو پسې**

---

**۳ـ پوښتنه**

---

**٤ـ څه کوي ؟**

---

**٥ـ بزګر**

---

**٦ـ مځکه**

---

**۷ـ پسرلی**

---

**۸ـ تهول**

---



زمرک او پلار يې څه نور هم کلي ته ور نيږدې شول. کلي ته نيږدې يې يو خټګر وليد. خټګر يو دکان جوړاوه.

زمرک و ويل، " پلاره، خټګر دغه دکان چا ته جوړوي "؟

پلار يې و ويل، "له خټګر څخه به پوښتنه و کړو چې چا ته يې جوړوي ". زمرک و ويل، "کاکا، دا دکان چا ته جوړوې"؟

خټګر و ويل، "دا دکان هغه سړي ته جوړوم چې را روان دی ".

زمرک و ويل، "هغه سړی خو زما ماما دی، دا دکان زما ماما دی".

**تمرین:**

**لاندي لغاتونه په جملو کي را ولئ**

**مثال:** ورو ورو

**جواب:** سدو ورو ورو رائحي.

۱ ـ نور

---

۲ ـ دکان

---

۳ ـ جوړاوه

---

٤ ـ پلاره

---

۵ ـ دغه

---

٦ ـ پوښتنه


---

۷ ـ کاکا

---

۸ ـ سړی

---



زمرک وویل "ماما سلام".

ماما وویل" وعلیکم. ستړي مه شئ. هر کله راشئ".
زمرک پوښتنه وکړه، "ماما ولي اوس دکان جوړوې"؟

ماما جواب ورکړ، "اوس پسرلی دی. هوا ښه ده. په پسرلي کي ورځي لويیږي. پسرلی د کار د پاره ډېر ښه وخت دی".

**تمرين:**
**لاندي لغاتونه په جملو کي راولئ**
**مثال: زمرک**
**جواب: د زمرک پلار کابل ته ځي.**

**۱ـ سلام**

---

**۲ـ کار**

---

**۳ـ سړی**

---

**٤ـ ولي**

---

**٥ـ جوړوي**

---

**٦ـ جواب**

---

**۷ـ ښه**

---

**۸ـ وخت**


---

لغاتونه: ښوونکئ دي په زده کوونکو دغه لغاتونه تکرار کړي


| | | | |
|---|---|---|---|
| روان | رهي | رمه | ډېر پسونه |
| وری | د پسه زوی | شپون | هغه سړی چي پسونه ساتي |
| مېږ | د وري مور | ښکارېده | معلومېده |
| ثري | پسونه چي خورک کوي | بوخت | اخته ، لګیا |
| شوق | د زړه په غوښتلو | ختګر | بنا |
| څړ | پسونه چي ځي او خورک کي | | |
| کوچیان | چي ټوله وختونه کډي کوي | | |
| بزګر | هغه سړی چي په مځکه کي کار کوي | | |
| یوې | مځکه د کرلو د پاره په غویو یا تراکتور اړول | | |
| کیږدۍ | د کوچیانو کور چي د پنډ ټوکر څخه یې جوړ کړئ وي | | |

د اسمونو مفرد ( یو ) او جمع ( ډېر ) دلته لاندي و لولئ

| | |
|---|---|
| یوه رمه | ډیري رمې |
| یو وری | ډېر وري |
| یو شپون | ډېر شپنیان |
| یوه مېږ | ډیري مېږي |
| یو شوق | ډېر شوقونه |
| یو ختګر | ډېر ختګران |
| یو څړ | ډېر څړونه |
| یو کوچی | ډېر کوچیان |
| یو بزګر | ډېر بزګران |
| یوه یوې | ډیري یوي |
| یوه کیږدۍ | ډیري کیږدیاني ، ډیري کیږدۍ |



# ورک شوی وری



یوه ورځ ملالۍ او لطیفه له ښوونځي څخه کور ته رواني وې. دکانو ته نیږدې یې یو کوچنی وری ولید. لطیفې وویل، "ملالۍ، دغه وری و ګوره. څنګه امبا امبا کوي. لکه چي ورک شوی دی".

ملالۍ وویل، "هو، زه هم ګومان کوم چي ورک شوی به وي. وګوره، هر چا ته امبا امبا کوي. خو د خلکو پام ورته نه شته".

تمرین:
د لاندي جملو خالي ځایونه د لوړ لوست په مناسبو کلمو ډک کړئ

مثال: یوه ورځ ________ او ___________ له ښوونځي څخه کور ته رواني وې.
جواب: ملالۍ     لطیفه

۱ـ دکانو ته ________ یې یو ______________ وری و لید.

۲ـ لطیفې و ویل، _________، دغه وری ____________.

۳ـ لکه __________ ورک _____________ دی.

۴ـ ملالۍ و ویل، ________ زه هم _____________ کوم چې ورک شوئ به وي.

۵ـ _____________ هر چا ته ______________ کوي.

۶ـ خو د _____________ پام ور ته ___________.

۷ـ یوه ________ ملالۍ او لطیفه له ____________ څخه __________ ته رواني وې.



لطیفې وویل، "هو، هر چا ته امبا امبا کوي. هغه دی زده کوونکو ته هم امبا امبا کوي. خو د هیچا پام ور ته نشته. هر څوک په خپل کار پسې روان دی".

لطیفه او ملالۍ وري ته ور نیږدې شوې. لطیفې وویل، "اې کوچنیه وریه، دلته څه کوې"؟

وري جواب ور نه کړ. وري امبا امبا کوله.

تمرین:

د لاندي جملو خالي ځایونه د لوړ لوست په مناسبو کلمو ډک کړئ

مثال: ________ و ویل ، هو ، هر چا ته امبا امبا کوي.

جواب: لطیفې

۱ـ ________ دی ________ ته هم امبا امبا کوي.

۲ـ ________ د ________ پام ور ته نشته.

۳ـ هر ________ په ________ کار پسې روان دی.

٤ـ لطیفه او ________ وري ته ________ شوې.

٥ـ ________ و ویل ، ________ کوچنیه وریه ، ________ څه کوې؟

٦ـ وري ________ ور نه کړ .

۷ـ لطیفه او ملالۍ ________ ته ________ نږدې شوې.

۸ـ لطیفې و ویل ، ________ وریه ، دلته څه کوې؟

لاندي سویډني جملې په پښتو ترجمه کئ

1- Hon kommer till skolan.

________________________________

2- Assadd pratar Pashto.

________________________________

3- Vi är hemma.

________________________________



ملالۍ او لطيفې له هر چا نه پوښتنه کوله، "دا ورى د چا دى"؟ خو چا جواب ور نه کړ.

لطيفې ورى له ځانه سره کور ته بوت. وري همداسي امبا امبا کوله. لطيفه پوه شوه چي ورى وږى دى. وري ته يې واښه ور کړه او د ځان سره يې وويل، "دا ورى به زه و ساتم".

تمرین:

د لاندي جملو خالي ځایونه د لوړ لوست په مناسبو کلمو ډک کړئ

مثال: لطیفې و ویل، هو، ________ امبا امبا کوي.

جواب: هر چا ته

۲ـ لطیفې ________ له ________ سره ________ ته بوت.

۳ـ ________ همداسي امبا امبا کوله.

٤ـ لطیفه ________ چي وری ________ دی.

٥ـ نو ________ ته یې ________ ور کړه

٦ـ او د ځان ________ و ویل،

۷ـ دغه وری به زه ________.

لاندي پښتو جملې په سویډني ترجمه کړئ

۱ـ دا وری د چا دئ؟

---

۲ـ وری وړی دئ.

---

۳ـ وري جواب ور نه کړ.

---



د لطیفې مور وویل ، ”دغه کوچنی وری به د چاوي ”؟

لطیفې وویل ، ”نه پوهېږم چي د چا به وي ”.

د لطیفې مور وویل ،”راځه چي له ګاونډیانو څخه پوښتنه و کړو ”.

لطیفه د خپلو ګاونډیانو کورو ته ولاړه. له هغو څخه یې پوښتنه وکړه، ”ستاسي وری خو به نه وي ورک شوی ”؟

ګاونډیانو وویل ، ”یه ، زموږ وری نه دی ورک شوی ”.

تمرين:
د لاندي جملو خالي ځايونه د لوړ لوست په مناسبو کلمو ډک کړئ

مثال : د لطيفې __________ و ويل ، دغه کوچنی ورى به د چا وي ؟
جواب: مور

۱ـ لطيفې و ويل ، نه __________ چي د ________ به وي.

۲ـ د لطيفې ________ و ويل ، ________ چي د ګاونډيانو څخه پوښتنه و کړو.

۳ـ و به __________ چي دا ________ د چا دی.


٤ـ لطيفه د __________ ګاونډيانو کورو ته ولاړه.

٥ـ له ________ څخه يې __________ و کړه ،

٦ـ ستاسي ________ خو به نه وي________ شوی ؟

۷ـ ________ و ويل ، يه ، ________ وری نه دئ ورک شوی.

۸ـ د لطيفې ________ و ويل ، ________ چي د ___________ څخه پوښتنه و کړو.



لطيفې له ځانه سره وويل، "دا وری د ګاونډيانو هم نه دی.
لکه چې له رمې نه پاته شوی دی".

پدې وخت کې يې يو آواز تر غوږ شو. مخ يې ور واړاوه. که
ګوري چې يو کوچی هلک دی. لطيفې و ليده چې وری کوچي
هلک ته ور وځغاست.

لطيفې وويل، " اوس پوه شوم چې دا وری د چا دی".

**تمرين: د لاندي جملو خالي ځايونه د لوړ لوست په مناسبو کلمو ډک کړئ**
**مثال : لطيفې له ـــــــ سره و ويل ،**
**جواب: ځانه**

۱ـ دا وری د ګاونډيانو ـــــــ نه دئ.

۲ـ لکه چي د ـــــــــ نه پاته شوی دئ.

۳ـ پدې ـــــــــ کي يې يو ـــــــــــ تر ـــــــــ شو.

٤ـ ـــــــــ يې ور ـــــــــــ .

٥ـ که ـــــــــ چي يو ـــــــــــ هلک دئ.

٦ـ لطيفې ـــــــــ چي وری کوچي ـــــــــ ته ور و ـــــــــــــــ.

۷ـ ـــــــــ و ويل ، ـــــــــ پوه ـــــــــ

۸ـ چي دا ـــــــــ د چا دئ.



# د ابمل باغچه



ابمل د خپلې کورنۍ سره په يوه کوچني کور کې ژوند کاوه. يوه ورځ د خپل ملګري سورګل کره ولاړ. ابمل و ليده چې سور ګل دوی په خپل کور کې يوه ښکلې باغچه جوړه کړې وه. له ځانه سره يې وويل، "موږ هم د کور څنګ ته يو څه شاړه مځکه لرو. زه به هلته يوه باغچه جوړه کړم".

**تمرین**: د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ

**مثال**: اېمل د خپلي کورنۍ سره په یوه کوچني کور کي ژوند کاوه

کور
کالي
کورنۍ

۱ـ یوه ورځ اېمل د ________ ملګري سور ګل کره ولاړ.

خپل
زموږ
داسي

۲ـ اېمل و لیده چي __________ دوی

سور ګل
زمرک
پلار

۳ـ په خپل کور کي یوه __________ باغچه جوړه کړې وه.

کوچنۍ
ښکلې
زړه

۴ـ له ________ سره یې و ویل ،

ځانه
خور
تا

۵ـ __________ هم د کور څنګ ته یو څه شاړه مځکه لرو.

موږ
تاسي
دوی

۶ـ زه به هم ________ یوه باغچه جوړه کړم.

تا ته
هلته
زموږ



اېمل له شاړې مځکې نه لرګي ، ډبرې او نور شيان ټول کړل. پلار يې راغی او پوښتنه يې ځني وکړه ، "اېمله ، څه کوې"؟

اېمل جواب ور کړ ، "پلاره ، زما ملګرې سور ګل په خپل کور کې يوه ښکلې باغچه لري. دا ده موږ هم دلته يو څه شاړه مځکه لرو".

پلار يې وويل ، "موږ به هم دلته يوه باغچه جوړه کړو".

**تمرین:** د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ

**مثال:** اېمل له ___شاړې___ مځکې نه لرګي ، ډبرې او نور شیان ټولول.

**مځکې**

شاړې

ډبرې

۱ـ پلار یې راغی او __________ یې څني و کړه ،

پوښتنه

کتابونه

کور

۲ـ اېمله _____کوې ؟

**څه**

**چا**

**چیرې**

۳ـ اېمل _________ ورکړ ،

**ګل**

**لوبې**

**جواب**

۴ـ پلاره ، زما ___________ سور ګل په خپل کور کې یوه ښکلې باغچه لرې.

**پلار**

**ملګری**

**مور**

۵ـ دا ده ______ هم دلته یو څه شاړه مځکه لرو.

دوی

زه

مونږ

۶ـ پلار یې و ویل ، مونږ به هم دلته _________ جوړه کړو.

**کتاب**

**باغچه**

**کالي**



د ابمل پلار یوم را واخیست. په یامه یې مځکه اړوله.

ابمل لرګي ، ډبري او نور شیان ځني ټولول. څو ورځي یې پر مځکه باندي کار وکړ. کله چي مځکه واړول شوه ، سره یې ور کړه او بیا یې اوبه کړه.

د ابمل پلار وویل ،" ابمله ، زموږ د باغچې مځکه اوس د کرلو د پاره تیاره ده".

ابمل وویل ، "د کرلو د پاره تیاره ده"؟

د ابمل پلار وویل ، "هو ، د شمال خوا ته به جوار و کرو. د جنوب خوا ته به نور شیان و کرو ".

تمرین: د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ

مثال: د ایمل پلار یوم را واخیست .

یو وړ
را واخیست
راځي

۱ـ په یامه یې ________ اړوله.

مځکه
ډوډۍ
موټر

۲ـ ایمل لرګي ، ________ او نور شیان ځني ټولول .

ډبري
لرګي
مځکه

۳ـ څو ورځي یې پر مځکه باندي ________ و کړ.

مځکه
ډبري
کار

٤ـ کله چي مځکه ________ ، سره یې ور کړه.


شنه شوه
واړول شوه
راغله

٥ـ زموږ د ________ مځکه اوس د کرلو د پاره تیاره ده.

کور
باغچې
کلي

٦ـ د ایمل پلار و ویل ، هو ، د شمال خوا ته به ________ و کرو.

جوار
ورجي
بېنډۍ



ابمل وويل، "پلاره، زه له کوره جوار راوړم"؟

پلار يې وويل، "هو، ولاړ شه جوار راوړه".

ابمل کور ته ولاړ. مور ته يې وويل، "موري، مور غواړو د باغچې شمال ته جوار وکرو. څه جوار راکړه چې د پلار سره يې په باغچه کې و کرم".

مور يې وويل، " جوار به در کړم خو ولې يې د باغچې شمال ته کرئ".

ايمل جواب ور کړ، "زه هم نه پوهېږم". له پلار څخه به پوښتنه وکړم".

تمرين: د ۳ کلمو څخه يوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای يې و ليکئ

مثال: ابمل و ويل ، پلاره ، زه له کوره جوار راوړم؟

کوره
جوار
يوم

۱ـ پلار يې و ويل ، ______ ، ولاړ شه جوار راوړه.

راځه
هو
دوی

۲ـ ابمل کور ته ولاړ. ________ ته يې و ويل ،

مور
دوی
ښوونکي

۳ـ موري ، مورې غواړو د باغچې ________ ته جوار و کرو.

کښته
شمال
پلار

۴ـ څه ______ راکړه چي د پلار سره يې په باغچه کي و کرم.

کالي
غوا
جوار

۵ـ مور يې و ويل ، جوار به ________ خو ولي يې د باغچې شمال ته کرئ؟

درکړم
ځي
قلم

۶ـ ابمل جواب ور کړ ، زه هم نه ________.

پوهېږم
ځي
مور



ایمل جوار راوړل او پلار ته یې وویل ، پلاره، موږ ولي جوار د باغچې شمال ته کرو ؟ ولي یې د جنوب خوا ته نه کرو ”؟

پلار یې وویل ، ” د جوارو بوټي ډېر جګیږي او پر نورو شیانو سیوری کوي”. نو د جنوب خوا ته به نور شیان و کرو ”.
ایمل وویل ، ”جوار چې پر نورو شیانو سیوری وکړي نو څه کیږي ”؟

پلار یې جواب ورکړ ، ”په سیوري کې د نورو شیانو بوټي ښه وده نه کوي”.

تمرین: د ۳ کلمو څخه یوه د پورتني مخ د جملو سره برابره ده ، د جملې پر خالي ځای یې و لیکئ

مثال: اېمل او __________ یې جوار کرل.

پلار
جوار
بېنډۍ

۱ ـ اېمل په ______ کي څلور دانې جوار تر خاورو لاندي کول او پلار ته یې و ویل :

هر ځای
دلته
هلته

۲ ـ یوه یې د __________.

غوا
موږک
سپي

۳ ـ یوه یې د __________.

کارګه
موټر
یوم

٤ ـ یوه یې د __________.

ماهیانو
چرګانو
غوایانو

٥ ـ یوه به یې __________ شي.

مړه
توره
شنه

٦ ـ پلار یې و ویل ، اېمله ________ مه کوه.

راشه
داسي
واخله